# افغان

## در شعر «داکتر عبدالاحد بارکزوی»

**پر ځان باور کره افغان زامنه**

**ای د ملت د لاس عصا زامنه * ای د افغان مشکل کشا زامنه**

{{{{{{{{{ }}}}}}}}}

ای د هرات فاتح ، افغان زامنه　　　ای د گرشک او قندهار زامنه
د آزادی پر ننگ ولار زامنه　　　د روس پر مخ کلک حصار زامنه
ملی رهبر د لوی جهان زامنه
گمراه ورک کی د میدان زامنه
ای د گردیز او د ځدران زامنه　　　ای د واخان او بدخشان زامنه
انصاری پیر دی نگهبان زامنه　　　ای د بادغیس او زنده جان زامنه
نه غوارو، هیڅ وقت اوروسان زامنه
نه ایرانی ، نه پاکستان زامنه
ته ئی د بلخ او شبرغان زامنه　　　ای د فاریاب او چقچران زامنه
د ننگرهار او د لغمان زامنه　　　کنر نه ورک کی وهابیان زامنه
تورخم نه باسی اجنبیان زامنه
شمشاد شرمیژی پر پندیان زامنه
پاکستان مه پریږده افغان زامنه　　　وطن څخه باسی ایرانیان زامنه
بیدیږه مه د نورستان زامنه　　　پندی دال خور شری له ځان زامنه
لاهو آمو ته که ، روسان زامنه
ای د پنجشیر او د پروان زامنه

ته د لوگر او د میدان زامنه ای د وردک او شهرستان زامنه
قلعهٔ بُست او د بکوا زامنه د هــزاری او د فــراه زامـنـه
پر ځان بـاور لــره رشتیا زامنه
پر حق دایـم کــره اتـکا زامنه
ای د ملت د لاس عـصا زامـنه ای د افغان مشکل کشا زامنه
د ولس زره دی دگ په تا زامنه ملـی درد و تـه شه دوا زامنه
رهـبر هغـه دی د افـغـان زامنه
هغه چه وی پر ولس گران زامنه
ځان شه بیدار کره زما گران زامنه لوی بده ورځ دی پر افغان زامنه د
سترگـو تــوره د پغمان زامـنه د جاغـوری او مالستان زامنه
تول تیار سی سی د افغان زامنه
ایرانــی بـاسی د بامیـان زامنه
تول سره کشینی پر یو خوان زامنو پر ځـان بـاور لـری افغان زامنو
ځـان لـیـری ساتـی د ایران، زامنو هم د عرب او پاکستان ، زامنو
اعتماد ولـری پـر ځـان زامنو
هر یو افغان پر بل افغان زامنو
هـغـه رهـبـر کی د افغان ، زامنو هغه چه وی پر ولس گران،زامنو
هـغـه چه نـلری نـقـصان زامـنو نـدی وژلی زمونژ ځوانان زامنو
د «بارکزوی» د درد درمان زامنو
پــروردگــار دی نگـهـبان ، زامـنـو

د ولی نوری په انتخاب